# عبقریان

## مجموعهٔ داستان های کوتاه از شهید محمد موسی شفیق



(۱)

دملک کلي دهغې لويې لارې په سر پروت دی کومه‌چه پایتخت پـه لویدیځو ولایتو پورې تړي ـ همدغه لاره‌ده چه دلمر ختیځې خواته دغرونو هیوادته ځېل اوبردی، کورني اوپردیس زانیاسي اوورنه وباسي‌یې، په همدې لاره ماکلونه کلونه پښوا دخپل پلارسره یوځای سفرکړی او داسفر په‌تل‌دهغه موجود په شاکیدو په‌کوم‌به‌چه هرڅه دبنیادمونه نیولی‌ان‌ترتیږو وسپنو، غلو، ښارو اومرغانو پورې بارو اولارۍ. په‌یې ورته ویله. دملک صاحب کلي په یوخوړکې پروت دی اوچه دلارې دوه سره پایتخت اودلمر ختیځ ولایت لوی ښار ونیسو نوداځای په‌یې لویدیځې خواته خیرمه پروت وی. دلارې لمرخاته خواته برخه هم‌هماغومره سړه اوهیبتناکه اودخطر نه ډکه ده لکه دمغرب خواې په کوزنۍ برخه‌کې‌یې دلیوانو، دیږو، د غلو اوداړه مارو اودسیلابونو خطر زیات‌دی مګرپه برنۍ خواکښې یوهیبت‌ناک ګړنګ پروت دی‌چه یوازې په یوازې ددې ټولـو خطرو سره مساوی دی ډریورچه په دغه ګړنګ رابرابر شي نوبه روغه تیریدل، ختل اوکوزیدل ورته معجزه ګڼي. په لارۍ‌کښې سواره کسان‌چه دګړنګ حدته‌راورسیږی نوهرڅومره سورتونه اودعاګانې‌یې‌چه زده وې‌هغه ټولې ختمې کړي،شش کلمې درستې کړی اوځان‌په مړوو شماري، دلوی‌خوان ندرومنې‌اوآخرت‌یې سترګوته ودریږي .

په دې خبره شي چه ولې یې وصیت نه دی کړی، ولې‌یې حج نه دی کړی، ولې‌یې لمونځ قضاء کړی، ولې‌یې هغه میاصاحب اوهغه پاچا صاحب دخان نه خپه کړی‌دی؟ زما ښځیله یادیږی‌چه کله به لارۍ دې ګړنګ تـه نژدې کیده نومابه تباشیر دجیب نه راوویست اودلارۍ په وسپنواولرګو به‌مې په څوځوواره ولیکل: «یاالله خیر، خدا حافظ یاغوث‌الاعظم دستګیر، ماته داویل شوی ووچه سړی داعبارت په‌کومه لارۍ ولیکي نوهغه لارۍ نه اوړي، رښتیا رښتیا اودروغ دروغ‌چه زمونږ‌لارۍ. تل‌دګړنګ‌نه‌سلامتې تیریدلې .

(۲)

دولس کاله پښوا ددغه کلي هوښیار اوپوخ ملک صاحب چه هم یې دزمانې ډیرې سړې تودې لیدلی وې اوهم دخدای په لاره سمو یوه ورځ سهار په جومات‌کښې خپلو کلیوالوته وویل: «هلکو! سږکال چه داځوړ

زمونږ اوستاسي کلي‌ته تنبه شوي‌او اوورنه چپ شو دابي خه نه دي. ماته داسي معلوميږي لکه چه په همدغه شاوخوا کې دکلي دخوړپلو ديوال ته نژدې کوم شهيد پروت دی هرچاچه کومه نښه وليده ماته دې ووايي! «دوه درې ورځي‌چه تيرې شوې يوبېر سرى غوندې سړى ملك صاحب ته راغى اودشهيد دنښي دپيداکيدو زيری‌يی ورکړ. بله ورځ دبېرسرى سړى سرنورهم پسي بېرشو، ځني‌يی اوبږدې‌شوې، دسرو‌ښتان‌يی کړه کړه شول، يوکچکول‌يی غاړې‌ته واچاوه اودکلي دخوړ پلو ديواله‌ته نژدې‌يولوړ شان قبرته ديره شو. دقبر دپاسه‌يی يوه سرجنډه لکه کړه اوځان‌يی دشهيد ملنګ کړ. قبرچه زيارت شو اوټول عناصريی پوره شول‌نودکلي خلك به‌يی جوپې جوپې زيارت‌ته راتلل اودعابه يی ورته کوله. کال‌ته چه بيادخوړ دمستي شپې راغلي اوکلي‌ته خيرمه شو خلك وارخطا شول او نوريی په تشه دعا ډاډګيرنه نه کيده، دهرچاچه هرڅه په وسه‌کښي وو هغه به‌يی زيارت‌ته راخغلول اوهمدا سوالونه به‌يی‌کول: «شهيده! دې‌خوړ ته دې زور ونښيه» خوړ بيا دشهيد دقبرسره ودريد اوپه‌کلي راونه‌خوت دی حادثي‌نه يوازې دکلي دخلکواودزيارت‌به رابطه تاثيروکړ بلکه دملنګ اودشهيد په علايقوکښې يی‌هم‌يوه تازګي‌پيداکړه. ملنګ توب‌به مجاورتوب بدل شو. که پخوابه شهيد دملنګ روح‌له قوت ورکاوه اوس‌يی ملاهم‌تړی اوجيب‌يی هم ډکوي. دلويو کسانو به خوابوږې‌چه سړی پريوزي بی خه خوبي نه پريږدي. دخوړ دمستي دشپو نه برسيره به هم‌کليوال زيارت له تلل راتلل. هلکانو به ښځي غوښتي، نجونو به ميړونه، ميړوښو به زانګو اچولي او اولاديه يی غوښته، ښويه نذرونه منل‌چه ګراني شي، دچا به چه سره مخه‌وه هغوي‌به دزيارت خاورې په ځان پورې مښلي‌چه ښه‌شي مرادونه به چه ترسره شول نوبه زيارت‌کښې به نذربخيده اوخلك‌به پرې راټوليدل. ددې ټولو واقعاتو نګراني به بېرسرې ملنګ (مجاور) کوله همدې راشه دزښه هغه مجبورکړچه دزيارت سره يوکوټه‌هم جوړه کړي اوهلته د «مراجعينو» او «مشتريانو» داستقبال خه تياری هم‌ونيسي. دملك صاحب بيبياني اوهغه پخپله‌هم دشهيد زيارت له هميشه تلوراتلو .

ملك صاحب به تل په دې خبره دځان سره ډير خوشاليده چه‌دشهيد قبردده دهڅې اوباعثتيا په اثر پيداشو اودې خبرې به ورته لاډيره مزه ورکوله چه دشهيد قبر دده په مځکه کښې پيدا شو .

(۳)

ښومره چه دشهید آوازه خپریده اودزیارت دول تکوریی زیاتیده په مبالغه اندازه‌یی جنګ‌هم لوېدلی. دلارې په سربه چه لارې تیریدلی اوس به دهغو سورلیو هم دزیارت سرې جنګ دورایه لیدلی. کله کله به چه لارې دملك صاحب دکلی خواته داوبو یاددمی دپاره ودریدې نوهغو سورلیوبه زیارت‌ته دورادعا کوله کومو به چه په‌لارې‌کی پخواهم سفر کړی و اوسترګی‌یی پخی شوې وې مګر نوکی سواره به تل په منلومنلو دشهید زیارت له پخپله ورتلل اودخیر سفر به یی ورنه غوښتلو. دګړنګ ویرې به تل په‌دې دعاګانوکښې یوخاص تأثیر لاره. طبیعی‌ده چه سورلیو به دنذرانی په ورکړه‌کښی دهرچانه زیاته میړانه ښودله .

دملنګ عایدات ورځ په ورځ زیاتیدل دهغه په کړه وړه‌کی کوم بدلون رانه غی، مګر شتمنی‌یی‌هم پټه پاتی نه شوه. ګروی‌یې واخولی، واده‌یی وکړ اوما اوتاسره‌یی پټ‌پټ قرضونه‌هم وکړل. ملك‌صاحب خوزیارت ته پوره عقیده لرله مګر دملنګ دومره ترقی ورله مزه ورنه کړه. دیوې‌خوانه دده خپل اقتصادی حالت چندانی ښه نه و دبلی خوانه داخبره هم بایده په یادولروچه دده ملکی دخلکو په احتیاج ولاړه‌وه نوددغه احتیاج دفع‌کول دده نفوذته صدمه رسولو، برسیره پردې دزیارت‌جم وجوش دده حجره اودیره هم ماته کړې وه .

هرڅومره چورتونه به‌یی‌چه ځان سره وهل ددغه کار تدبیریی نه‌شو جوړولی اودابه شار اوړې بلایی‌نه شوه ورکولی. شپې اوورځی ، جومې اومیاشتې ملك صاحب په همدغه فکر بوخت و اودخپلو تجربو په دریاب کښې‌یی ددې معمی په حل پسی غوټې وهلی .

(٤)

دملك صاحب دکلی نه یو څومیله لرې په لمر خاته خواتـه خوړې کښې یوې درنی لارې تیل خلاص کړل. په هغو سړو شپوکښې‌چه‌دلاریو شمیر هم‌کم‌و دمانښام ترتیارو پورې هیڅ موټر پیښه ونه‌کړه. دشپې‌دپاره سورلیو یوې کوټنې‌ته ځان ورساوه اوهلته پریوتل. سهار چه راپاڅیدل پوازې دغاړې جامې‌یی په ځـای وې اونور تـرې هرڅه غلووړی‌وو. خبره طبعاً حکومت‌ته لاړه اودهغه ځای نه سپاهیـان او اوالدار دمـلك صاحب

نږلې ته راغلل اودده په حجره کښې‌يې دتحقيقاتو ټغر وغوړاوه چه وهل او
ټکول اونوري ټولې بې‌شرمۍ ورپسې را رواني وي .
اوالدار ملك صاحب‌ته وويل: «غله راپيدا کوې اوکه مونږ پخپله
ورپسې ښځې ووهو ؟ »
ملك صاحب دسپاهيانو خرڅ ورکړ اووعده‌يې ورسره وکړه چه که
په دري شپوکښې‌يې دسورليو کالي پيدا نه کړل اوغل‌يې حکومت‌ته‌ونه
ښودلو بيا دهغوی خوښه چه دده ددهقانانو او اولس سره هر څه کوي.
سپاهيان چه لاړل ملك صاحب دکلي خلك راټول کړل او ورته‌يې وويل:
«هلکو! داغلابه ضرور پيداکوئ، غل‌په تاسې کښې دی. دلته خودآسمان
نه څوك راتلی نه شي. هرڅه چه شوي خيردی غلطي دهرچانه کيږي
توبه وباسئ اوځان دحکومت دبازخواست اود آخرت دبدې ورځې نه بچ
کړئ. زه به هم ستاسې په گناه لمن وغوړوم هرچاچه مال اخيستی وی
بيگانه دې‌يې دشپې‌په زيارت واچوي اوځان‌دې‌هم نه‌ښايي، زه به پخپله
دسپاهيانو اودحکومت چاره‌وکړم.» دماښام تياره‌چه‌ټينگه شوه خان‌صاحب
خپل يونوکر مکلف کړچه دزيارت دغزونو کوم‌ډډ‌ته پټ‌شي اوکه چاڅه
راوړل اوهلته‌يې واچول نودې‌پرې‌فوراً‌خبر کړي.شپه دنيمې‌نه‌اوښتې‌وه
چه دتيارو دگيډې نه يوڅوك راوو وت اويودوه داوړو پيټی‌يې په زيارت
کښې گوزار کړل اوخپله لاريې ونيوه. دملك صاحب نوکر په منډه هغه
خبر کړاوهغه دواره يوه رقعه حکومت‌ته وليکله چه غل دمال سره‌پيداشو
سپاهيان دسهار په خړه‌کښې راورسيدل اوملك صاحب دگوتونه ونيول
اوپه مال‌يې ودرول اوبيايې دملنگ دکوټې‌په دروازه ورننويستل. دملنگ
منې هماغلته وتړل شوې اومخ په حکومت روان کړی شو .

(٥)

ملك صاحب چه دملنگ نه خاطر جمع شونو دزيارت اداري اوتنظيم
ته‌يې پام شو .
دده لومړنی اقدام داوچه زيارت‌يې «مصادره» کړ. فوراًيې خپل‌يوبېر
ږيري نوکرته امروکړچه دزيارت يوه ننبه دلاريو دسرك په سرودروی
جنډه لگه کړي، دوسپينې پنجه اوسره ټوټه وربوري وتړي او يوه کوډۍ
جوړه کړي اوډيرې رنگينې ټوټې وربوري غوټه کړي. داکارچه تمام شو

ملك صاحب خپل نوکرته وویل چه اوږدي جامې واغـوندي، سر اوږښې لوڅې کړې اوپه هغه کوډې‌کې دیره شي. هره یوه لاری‌چه راځې غږدې وربانديږ کوي‌چه «یاالله خیر ... سفر بی‌خطر» داصل زیارت دپاره هـم ملك صاحب یوه چاره وسنجوله. دده یوسر تنبه امام وچه هغه دلاریـو سرك‌ته دزیارت دمرکز دنقلولو سره چه د مـلك صاحب اصلي آرزو وه شدید مخالفت وکړ. دملك صاحب اودهغه ترمنځه ډیرې مباحثې وشوی چه تقریباً حاصل یې دادی:

ملك صاحب! دازیارت‌که دلوی سرك په سر جوړکړو ډیرخلك‌ورته رسیدی شي اوبرکت به‌یې‌هم مسافروته رسیږی اوهم دکلي خلکوته.

ملاصاحب: زیارت دچاپه خوښه نه جوړیږی. داشهید رحمة‌الله‌علیه همدلته پیدا شوی اوهمدلته وربانديږ قبر جوړ شوی دی.

ــ دلته خونه دی پیدا شوی خدای خبرچه په اصل کښې یې قبر چیرته و ؟

ــ خیر خومبارك هډوکی یې همدلته پیداشوی دی اوشرعی مسالـه داده چه دیو قبر خوځول بی‌ضرورته جایز نه دی.

ــ داهم یو ضرورت دی چه خلك ورته ښه ورسیږی.

ــ نه داسې نه ده ضرورت په کتابونو کښې په خپله بیـان شوی دی.

دنبي آخرزمان علیه‌الصلواة والسلام په شرع‌کی هیڅ شی بی‌بیانه نه دی پاتې شوی.

طریق عام یو شرعی ضرورت دی.

ــ طریق عام یعنې څه ؟

ــ لویه لاره.

ــ ولی هغه باچهی سرك تاته لویه لاره نه ښکاری که څنګه ؟

ــ نه مطلب دادی چه یوه عامه لاره په یوقبـر راشي نـوهغه ورته وراندیدلی شی.

ــ استغفرالله! لویه خوانه راورسیږي. چاویلی‌چه مونږ دشهیدقبر ورانو و ؟

مونږ فقط دهمده زیارت هغلته د لوی سرك په غاړه جوړ وو.

داکار په شرع کښې ناروا دی ؟

داځو دشهيد درنښت دی . دشهيدانو برکت ځوپه هرځای کښې پوشان وی څه داځای اوځه هغه .

ــ ته په شرع کې فلسفي لټوې اوپه ځپل فکر پسې ګرځې !

ــ ستا په دې کې نورکارنه شته. دامځکه هم زماده اوهغه مځکه هم زماده ــ زما بابا مشر ملك دې ځدای پاك غرق رحمت کړي هغه به ویل چه دهغه کوزو رسك ځخه راپورته اودهغه برکړنګ نه رابښکته داآسمان هم زمونږ دی. مځکه زماده اوشهيد زمادی چه هرچيرته يې چه ښځوم ستاپکې کارنه شته .

ــ ښه ده مځکه خوستاده، ګورو به چه ځوك دنبي دشرعي پوښتنه هم کوي که نه .

دلته ملك صاحب څه لږ غونډې ډېل وکړ. دې چه پونجربه کارسړی د دملاصاحب داخطار په معنی پوره ورسيد. دواره يي په ذهن کې غتې غتې سپينې سپينې پګړۍ، نرې نرې تبرګې اوداوږدو پورې څنې وګرځيدې دطالبانو دقوت اوعيبت دتخيل نه دننه ولړزيد. مګر ملاصاحب ته يي به ښکاره هيڅ وارخطايي ونه ښوده همدومره يي وويل: «ښه ده ګورو به چه څه کيږي. سباله به سره بياخبرې وکړو» .

ملك صاحب اوملا صاحب به دې سره جوړ شول چه دشهيد ګټه وټه دې ددواړو شريکه وي. ملاصاحب به داخبره دنبي په شرع برابره وګڼي چه ملك صاحب دلاريو دسرك په سردشهيد جنډه اوپنجه لګه کړي اوپوره ښه معتبره نمايندګي تأسيس کړي. ددغې نمايندګۍ ټول کنټرول به دملك صاحب په «يد باکفايت» کښې وي .

ملا صاحب به دشهيد داصلي زيارت په هغه کوټنۍ کې واړوي چه ملنګ ورته لاس تړلي زندان ته بوتلل شو. هرڅوك چه په دغه اصلي زيارت پيښه کوي دهغوی شکرانې اونذرانې به دځوړ دسيلاب دورځو په شمول په ملاصاحب پورې تعلق لري .

(٦)

دخان صاحب دپاره دلاريو په سرك باندې دزيارت نمايندګي دسپينو اوسرو ژرنده وه. ده به شخصاً دهغه ځای اداري اوتنظيم ته توجه لرله او ګله ګله به يي دسرك په غاړه کټ واچاوه اوبه ډيره مزه به يي هرې لاری.

ته‌کتل‌چه دزیارت په جنده اوکوړی. به هرومرو ودریده اوموټروان به یی نوټ اوسورلیو به‌یی میده پیسی دمجاور (دملك صاحب دپخوانی مزدور) خواته ورکوزارولی. په موټر وانانو اوسورلیو کښې داخبره منل شوې‌وه چه ددغه ناآواره سرك اوددغه بیحسابه پیچومو اومخصوصاً دمغه‌هیبتناك اوخونړی کړنګ نه په سلامتی. تیریدل بی‌ددغه شهید دبرکت نه ناممکن کاردی .

ملك صاحب په مخکو باندی نوی کلاګانی واچولی، اسونه یی واخیستل. شاړی‌یی په تقاویو آبادی‌کړی اودبدبه یی بیحسابه زیاته‌شوه، دحکومت سره یی‌هم قدر زیات اوروابط یی ټینګ شول اونور نودچا مجال نه ؤ چه دده مخی له ورشی .

## (۷)

ډیر کلونه پس دسرك مخه وګرځیده. داسرك نورمتروك شواویوبل نوی سرك جوړ شوچه نه پوهیږم په څه شی کښی ددې زاړه سرك نه‌ښه‌ؤ مګر حقیقت دادی‌چه اوس لاری. په هغه بل‌سرك ځی. ملك صاحب ډیری ورځی غمجن‌و مګرآخرورته دوستانو مشوره ورکړه چه د شهید برکت خو لری اونژدې پورته وی نوولی ملك صاحب همدغه دزاړه سرك دسر نمایندګی په همدې کم اوکیف دنوی سرك په سر نه جوړوي؟دملك‌صاحب داخبره بیحده خوښه شوه اویوه ورځ‌یی پخپله نوی سرك‌ته تشریف‌یووړ هلته‌یی دغره په اوچتو کمرونوکښی دسرك‌په سردډیرو هیبتناکوکړنګونو په منځ‌کښی یوځای خوښ کړچه دزیارت نمایندګی وربانډې بناکړی.لږې ورځی وروسته ملك صاحب ته معلومه شوه چه دنوی نمایندګی حاصلات نسبت پخوانی ته زیات دی نوبیا وربانډې همدغه سرك چه یوه ورځ یی ورته ددښمن دحملی دخطر په سترګه کتل‌دلنګی غواغوندې‌ګران شو.زمانه هم عجب کارونه کوی. یوه ورځ ملك صاحب‌خپلو دهقانانوته ویل:دپه‌دغه سرك‌کی‌چه هرسټك یوه تیږه ماتوی لګه زمایه کوپړی‌چه ګـوزار کوی، دنمایندګی حاصل چه منظم شونویوه ورځ ملك صاحب ته چاپیشنهادوکړ چه دهغی امتیاز به اجاره ورکړی، اوس دملك صاحب خاطر دپخوانه هم جمع شو اوهرکـال ډیرې روپی. ددغی نمایندګـی د اجارې نه دده پـه خزانه‌کی زیاتیږی .